**د نړیوال بانک مرسته د هېواد د مالي او بانکي سکتور بنسټونه ټینګوي**

د افغانستان د مالي سکتور د پیاوړتیا او اقتصادي رغښت په موخه د نړیوال بانک د سلو میلیونوامریکایي ډالرو مالي مرسته د افغانستان د مالي او بانکي سکتور بنسټونه ټینګولای شي او دې برخې ته پرمختګ ورکوي.

د نړیوال بانک مدیره پلاوي په افغانستان کې د مالي سکتور د ثبات او له کوچنیو سوداګریزو فعالیتونو څخه د ملاتړ لپاره ۱۰۰ میلیونه امریکایي ډالره نوې مالي مرسته تصویب کړه. تمه ده چې دا مرسته به په هېواد کې د کووید- ۱۹ ویروس له ناوړه اقتصادي اغېزو څخه د را وتلو په برخه کې ګټوره تمامه شي او د افغانستان د اقتصادي رغښت په برخه کې به مرسته وکړي.

نړیوال بانک او د نړیوالې پراختیا اداره دا ډول مرستې له بېوزله هېوادونو سره کوي. د دې ۱۰۰ میلیونه امریکایي ډالرو د مرستې موخه د افغانستان د مالي سیستم د پیاوړتیا پروژې له لارې د افغانستان بانک د کارکوونکو د ظرفیت لوړونې او د مالي مقرراتو په تطبیق کې د دې بانک د څارونکي رول پیاوړی کول او په دې برخه کې د آسانتیاوو رامنځته کول دي.

د افغانستان بانک د هېواد مرکزي بانک دی چې د نورو اساسي دندو تر څنګ پر بانکونو او د مالي خدمتونو پر وړاندې کوونکو ادارو د چارو د څارنې او د قوانینو د تطبیق دنده پر غاړه لري. له د افغانستان بانک سره دا ډول مرستې به یاد بانک په خپلو دندو کې لا پیاوړی او په ټوله کې به د افغانستان د اقتصادي رغښت او مالي نظام د پیاوړتیا لامل وګرځي.

همدارنګه دا پروژه له افغانستان سره مرسته کوي چې د بیمې لپاره د تضمین سیستم رامنځته کړي، د پورونو او عامه اعتباراتو ثبت او د وثایقو او رهني حقوقو د ثبت پروسې پیاوړې کړي او په د افغانستان بانک کې د معلوماتي تکنالوژۍ یو پیاوړی او پرمختللی سیستم منځته راوړي چې په بانکونو او نورو اړوندو مالي ادارو کې د معلوماتي تکنالوژۍ د پرمختللو سیستمونو رامنځته کول او د مالي چارو د پرمخ بیولو لپاره د آسانیتاوو په برابرولو کې مهم رول لري.

په همدې ډول د بیمې لپاره د تضمین سیستم رامنځته کول به خلک دېته وهڅوي چې خپل ځانونونه او شتمنۍ بیمه کړي او له دېلارې،د خپل ژوند په اوږدو کې له زیاتو آسانیتاوو برخمن شي. همدارنګه د اعتباراتو، وثایقو او رهني حقوقو د ثبت د پروسو پیاوړي کول په مالي او بانکي چارو کې ډېرې آسانتیاوې رامنځته کولای شي.

دا مهالپه افغانستان کې له نیمایي زیات کوچني او منځني تشبثات او سوداګریز کارونه د کمزوري اقتصادي سیستم، د کوویډ-۱۹ ویروس د خپرېدو له امله د قرنطین د اقداامونو او د کړکېچن امنیتي او سیاسي وضعیت له کبله له ستونزو سره لاس او ګریوان دي.

له افغانستان سره د نړیوال بانک د مرستو دوام د افغانانو په ژوند کې مثبت بدلون رامنځته کړی او دغه مرستې د افغانستان د پراختیایي لاسته راوړنو په ساتنې او پراخېدو کې له بنسټیز ارزښت برخمنې دي.

نړیوال بانک له ۲۰۰۲ کال را په دېخوا د عامه هوساینې، ټول شموله او یوې سولهیزې راتلونکې لپاره په افغانستان کې خپلې مرستې او پانګونې ترسره کړې دي.

نړیوال بانک له افغانستان بانک سره په بېلابېلو برخو کې مرستې کړې دي چې د دې بانک لپاره ډېرې ګټورې واقع شوې دي. تمه ده چې له د افغانستان بانک سره به د نړیوال بانک مرستې دوام پیدا کړي او د دې هېواد له ځپل شوي اقتصادي وضعیت سره به مرسته وکړي.

سرچینه:

۱ – ۱۰۰ میلیون دالر کمک جدید بانک جهانی به منظور تامین ثبات سکتور مالی و تسریع روند احیای اقتصادی افغانستان/ ۸ میزان۱۳۹۹

https://www.worldbank.org/fa/news/press-release/2020/09/28/world-bank-100-million-to-stabilize-afghanistans-financial-sector-and-spur-economic-recovery